# رومانوي تحريک او پښتو ادب تنقيدي څېړنه

## (A Critical Analysis of Romantic Movement & Pashto Literature)

Sharif Khan*
Samiullah**

**Abstract**

In this article, the researchers have critically evaluated multiple prospects that had spurred Romantic Movement in the late Eighteenth Century. Why William Wordsworth (1770–1850) and Samuel Taylor Coleridge (1772–1834) had disagreed with the ideas and conceptions of the writers and critics of Neo-classic movement and Enlightenment Era. The principle of Poetic Diction and evaluating each and every matter of the nature through logic and reason were the primary points that impelled the English writers to experiment new genre with the help of mixing lyrical and ballads into one. The Wordsworth and Coleridge (the pioneers of Romantic Movement in England) distanced themselves from the traditional conceptions and instilled subject matters of poetry. The first edition of Lyrical Ballads was published in 1798 with 23 poems, amongst which four were contributed by Coleridge. Whatever criticism the traditional schools of thoughts chronicled against the new experiment, had compelled Wordsworth to republish the book with his famous Preface in 1800, and then in 1802 and finally 1805. Wordsworth presented a Theory of Poetry which contained principles regarding poetry. Besides this, various prospects: like Renaissance, Industrial Revolution, the Age of Enlightenment, The Age of Revolutions and so, have been critically analysed which has enriched the contents of Romantic Movement. While it has also been critically evaluated that whether Pashto has ever witnessed the said literary movement with all its primary characteristics or vice versa.

**Key words:** W. Wordsworth, S.T. Coleridge, Classicism, Romantic Movement, Lyrical Ballads, Pashto literature

### تعارف:(Introduction)

رومانوي تحريک (Romanticism) د اتلسمې پېړۍ د وروستو لسيزو يو نومياتي تحريک دے، چې د فنون لطيفه د نورو برخو (لکه، موسيقي، انځورګري او مجسمه سازي) سره ئې د اروپائي ټولنې په ادبياتو کښې هم يو زورور بدلون راوستے دے- دې بدلون د فنون

* Lecturer Department of Pashto Balochistan University Quetta.
** Lecturer Department of Pashto Balochistan University Quetta.

لطيفه په مروجه موضوعاتو او ټاکلي اصولونوکښې نوے فکري اوښتون ته لار هواره کړه، چې په نتيجه کښې ئې رومانوي تحريک پېدا شو. يعني په اولسمه او اتلسمه پېړۍ کښې د کلاسيکيت د نمائنده نقادانو او شاعرانو، لکه، د انګلستان بولو او ډرائډن، جانسن، پوپ، ايډيسن او نورو، له سوبه شاعري نه يوازي د ځينې اصولو او ضوابطو ترڅار لاندې پلي کېدله، بلکې په دې کښې جذبه، احساس، انفراديت، او فطرت ته هېڅ ډول توجه نۀ کېده. د کلاسيکيت د دې غوښتنو په ضد چې کوم غبرګون راپورته شو، هغه د رومانوي تحريک بڼه خپله کړه، او دغه ډول دغه ياد تحريک پېدا شو.

**د رومانوي تحريک د پېداوښت لاملونه:**

په اروپائي ټولنه کښې د سياسي، اقتصادي، او کلتوري ويښتيا او بېدارۍ تر شا د بيا ژوند يا نشاة ثانيه (رينسانس) (Renaissance)، صنعتي انقلاب او انقلابونو عصر (اتلسمه پېړۍ) د ازربښت وړې دورې ګڼل کيږي، چې په ياده ټولنه کښې ئې نۀ يوازې و حېرانونکي شعوري بدلون ته لاره هواره کړه. بلکې د ډېرو سياسي، اقتصادي او کلتوري بدلونونو په څنګ کښې ئې د رومانوي تحريک د رامينځته کېدو زمينه هم برابره کړه. که د دې پورتنيو دورو او ځانګړتياو ته په لنډه توګه پاملرنه وکړه، چې د رومانوي تحريک دپاره ئې تومنه برابره کړه، نو په اروپائي ټولنه کښې د رينسانس / نشاة ثانيه دوره د سياسي، کلتوري، هنري او ادبي پاڅون يوه ستره دوره بلله کيږي. " (له اردو ژباړه) دا د رينسانس دوره په اصل کښې د يوه تحريک نوم نه وۀ، بلکې د هغې فضا نوم وۀ، کومې چې و هر قام ته نوې رڼا ورکړه... په نشاة ثانيه کښې دوه متضاد رحجانات د يوه بل په ضد وۀ: چې يو پکښې د مذهب ملګرے او دويم ازاد خيالي وه" (1) تاريخي اسناد په ګوته کوي چې د شعوري اوښتون دغې دورې د *اروپائي* هېواد اټاليا (Italy) څخه په ديارلسمه پيړۍ کښې سر راپورته کړۀ، او تر اوولسمې پېړۍ پورې ئې ټوله *اروپائي* ټولنه ترخپل اثر لاندې راوستله. په ادبياتو کښې د رينسانس شعار د کلاسيکي اقدارو بيا ژوندي کېدل وۀ.

که څۀ هم د رينسانس شعوري دوره پرڅو پېړيو باندې مشتمله يوه لويه دوره ده، خو په دې کښې د مختلفو پوهانو او نقادانو لخوا د ادب پر نوعيت او مقام باندې په بېلا بېلو وختو او ځايونوکښې دمتنوع خيالاتو اظهار وشو. دې متنوع خيالاتو په ورو ورو بيا د يوه تحريک بڼه خپله کړه، چې وروسته د رومانوي تحريک يا رومانوي مکتب فکر په نوم باندې ونومول شو. دلته د دې خبرې يادول هم ضروري دے، چې يوتحريک هغه وخت د تحريک

بشپړه بڼه خپلوي، چې تر شا ئې په ټولنه کښې زورور تصورات متحرک وي. ترکومه ځايه چې د دې رومانوي تصوراتو او تحريک خبره ده، و دې ته د *اروپائي* ټولني په مختلفو وختونو او هيوادونو کښې وده ورکړل شوې ده. يعني که وه يوه لوري ته د فرانس نومياتي فلسفي ژا ژاک روسو (۱۷۱۲- ۷۸) په خپل ټولنيز تړون (The Social Contract-1762) کښې د انسان د ازادۍ خبره کوي، او دا ادعا کوي چې: (له اردو ژباړه) "انسان ازاد پېدا کيږي، مګر هغۀ هرځاے په ځنځيرونو کښې بند ښکاري." (2)

د روسو دغه ادعا د هغو ټولو قوانينو او اصولو په ضد د غبرګون يوبرملا اظهار وو، چې *اروپائي* انسان ئې په يوه او بله پلمه باندې تر مختلفو قدغنونو لاندې ساتلے. د ژاک روسو دغې جملې د نورو سياسي او مذهبي بحثونو په څنګ کښې ادبي نړۍ هم ولړځوله: چې انسان خو ازاد پېدا کيږي، مګرهغۀ په هر ځاے کښې د مختلفو قوانينو او ضوابطو په پړو تړل کيږي، چې په دې کښې د نورو ازاديو سره سره د هغۀ پر ژوند او فکري ازادۍ باندې هم بنديز ولګيږي. ډاکټر سعيد احمد ليکي چې د دې له سوبه "د فرانسيسي ادب په تاريخ کښې روسو د رومانويت بنياد کښېښودلې." (3) روسو ته دا امتياز ځکه حاصل دے، چې ده د انسان دپاره د ازادي خبره په يوه داسي وخت کښې وکړه، چې و هر لوري ته هغۀ په *اروپائي* ټولنه کښې تر سختو بنديزونو لاندې ژوندل کولو. هم دې غوښتنو د فرانس په اولسي انقلاب کښې لوے کردار ادا کړې، چې په نتيجه کښې ئې د کلاسيکي اصولو سره سره د ټولنيز جمود ستني هم ماتي کړې. ځکه خو والټير پر دې نظر باندې روسو تر سخت انتقاد لاندې ونيولے: (ژباړه) "چې ستا خيالات د "انسانيت" په ضد دي، او د "انسانيت" څخه مقصد هغه اصول وۀ، کوم چې د کلاسيکيت سره تړلي وۀ." (4)

مګرد تاريخ او ادب يو ځيني پوهان له دې نظر سره اختلاف لري، چې د فرانس اولسي پاڅون (۱۷۸۹) د رومانويت تحريک زيږولې دے. البته و دې تحريک ته ئې ډيرداسي شعار ورکړل: چې د اولسواکي او انفراديت د ادعا کولو سره سره ئې و جذبه ته پر عقل او د لرغونو کلاسيکي اقدارو پرځاے باندې و کليوالي ژوند او خلګو ته پام واړولو. په لنډه توګه رومانوي تحريک د کلاسيکي او روښن فکري (Age of Enlightenment) تحريکونو په ضد يو تحريک وۀ، چې د اروپا په ځينو هېوادونو لکه، فرانس، جرمني او انګلينډ، کښې په ړومبي ځل پيل شو. يعني رومانويت نه يوازې د روښن فکري دورې د ټولنيز اشرافي او سياسي اقدارو، بلکې په سائنسي استدلال باندې د فطرت د تحليل هم ضد وۀ. د رومانوي

تحریک پلویانو د روښن فکرۍ د دلیل او معقولیت په غبرګون کښې جذبه او تخیل ته ترجیح ورکوله، او غوښتل ئې چې له هر قید او بندیز څخه ځان او هنر ازاد کړي. صدیق روهي د روماني شاعري په اړه لیکي: "رومانوي شاعر له ټولو قیدونو او زنځیرونو څخه ځان آزادوي او د آزادۍ غلام ګرځي. دے غواړي، چې هنر آزاد کړي او"هنر د هنر لپاره " خپل شعار وګرځوي." (5) دا ټول هغه عوامل وۀ چې د رومانوي تحریک په رغونه کښې یو مهم کردار کړۓ، او په *رومانوي* ادبیاتو کښې ئې د یوه نوي ادبي تحریک دپاره لار هواره کړه. ترکومه ځایه چې د روماني تحریک خبره ده، رومانوي تحریک ځینې ځانګړي غوښتنې لري، چې د یادو پوهانو د علمي بحثونو زیږنده دي. راځو هغه عوامل او اصولونه راسپړو چې د رومانوي تحریک د ابتدا او ارزښتنو لامل وګرځېده.

## د رومانوي ادبي تحریک ابتدا:

د رومانویت اصطلاح په خپل تاریخي او ارتقایي مزل کښې ډېرې معناوي له ځانه سره راوړي دي، چې له دې کبله ئې نقادان او لیکوال په یوه جامع تعریف او مفهوم توضیح کولو کښې زیات توپیرونه سره لري. نقادان د دې اصطلاح د بېلوالي علت د بېلا بېلو اړخونو او موقعیتونو پرځاے استعمال په ګوته کوي. د مثال په توګه جې. اې. کډون ( J. Cuddon) , A لیکي (ژباړه):" په قرون وسطے یا په منځنیو پېړیو کښې (چې له شپږمې پېړۍ څخه بیا تر شپاړسمې پېړۍ پورې دوره ته وئیل کېږي) رومانس(Romance) د لاطیني ژبې څخه اخیستل شوي ځایي ژبې ته وئیل کېده. چې د کتابونو په ځایي ژبه کښې ترتیبولو یا ژباړلو ته وایي... په عمومي توګه د فریډریک شلېګل په هکله دا وئیل کېږي چې دے لومړنے سړے دے چې د رومانټیس (Romantisch) اصطلاح ئې په ادبي پېرایه کښې وکاروله. خو دے پخپله په دې نه وۀ رسیدلے چې له دې څخه د ده څۀ مرام وۀ. مګر ده له رومانټیک څخه د جذباتي مسئلې په یوه تصوراتي بڼه کښې وړاندې کول مقصد اخستلے. " (6) ځینې پوهان بیا د رومانټیک کلمې د اشتقاقي او ګرامري حالت د تشریح په هکله بېل بېل نظرونه لري. د مثال په توګه د رومانټیسزم د ریښې په هکله محمد صدیق روهي (۲۰۰۷) لیکي:"د رومانټیسیزم نوم د رومانټیک (Romantic) له صفت څخه مشق شوے دے، چې د رومانټیک کلمه هم د زړې فرانسوۍ له رومانز (Romanz) څخه اخیستل شوې ده، چې معنے ئې رومانس (Romance) یا ناول (Novel) دے، لیکن دغه کلمه د لومړي ځل لپاره د (۱۶۵۴ع ) په حدودو کې په انګلیسي ادبیاتو کې استعمال شوې ده. د رومانټیک معنے ده "د

رومان په شان" چې مجازا د خيالي او موهومي په معنا استعمالېده...په (۱۷۷۷) روسو پخپل اثر د يوه منزوي ګرځندوے اندېښنې کې استعمال کړ. دے ليکي: د بين درياب سواحل د ژنيو د درياب له سواحلو څخه زيات وحشي او رومانتيک دے." (7)

ادبپوهان که څۀ هم فکر لري چې د رومانتيک اصطلاح د روسو له استعمال وروسته په علمي ليکنو کښې زيات شهرت پيدا کړ. خوپه رسمي توګه ئې د تحريک بڼه هغه وخت غوره کړه، چې کله انګليسي شاعرويليم ورډز ورت (William Wordsworth) او سېمويل ټيلرکالرج (Samuel Taylor Coleridge) په ګډه د نظمونو يو کتاب د لېريکل بېليډ (Lyrical Ballads) په نامه باندې په ۱۷۹۸ کښې چاپ کړئ، چې د رومانوي تحريک بنسټ ئې کښېښود. له دې سره په المان / جرمني کښې د فريډريک ليوپولډ، (Friedrich Leopold-1772-180) چې تخلص ئې نوويلس(Novalis) وۀ، نظمونه د شپې مناجات په نامه وليکل، چې د الماني رومانټيسزم بنياد ګڼل کيږي. د رومانوي تيوري او تنقيد ليکوال ليکي چې (له انګلسي-ژباړه) "د رومانوي تحريک مضبوط سنګرونه انګلينډ او جرمني وۀ...هم دا وجه ده چې موږ د انګليسي او الماني تاريخپوهانوڅخه داسي معلومات تر لاسه کووۀ چې رومانټيک تحريک هغه وخت په يادو هېوادونوکښې پيل شو چې کله د ورډز ورت او کالرج ګډ لېريکل بېليډ (Lyrical Ballads) لومړے چاپ په ۱۷۹۸ کښې خپور شو، او د نوويلس (الماني) د شپې مناجات اثرپه الماني (Hymns to the Night) کښې چاپ شو، چې د رومانټسيزم تحريک او تيوري ته ئې اصولونه وضع کړل. د يادو ليکوالو وتلے اثر د دوو بېلا بېلو صنفونو يوترکيب دے چې بېلې معناوې په ګوته کوي. " (8) ورډز ورت د لېريکل بېليډ په دويم چاپ (۱۸۰۰) کښې د مقدمې سره سره ځيني نور نظمونه زيات چاپ کړل. په دې مقدمه کښې ورډز ورت د شعر، شاعر او موضوع په هکله ځيني اصولونه وضع کړل، چې د رومانوي تحريک اصول وګرځېدو. په يوه تحقيقي مقاله کښې يو محقق ارم وسمان عمر(Aram Wasman Omar) دورډز ورت لخوا د لېريکل بېليډ د دويم چاپ په ديباچه کښې د شاعري اصولونو په هکله داسي نظر وړاندې کوي. عمر ليکي:

"The poetic principles discussed by Wordsworth in the —Preface to the 1800 edition of Lyrical Ballads constitute a key primary document of the Romantic era because they announce a revolution in critical notions about poetic language, poetic subject matter, and the role of the poet." (9)

ژباړه: ورډز ورت چې د لېریکل بېلیډ په (دویم) چاپ (۱۸۰۰) کښې کوم شعري اصولونه بحث کړي دي هغه د رومانتیک دورې لاژمي اسناد وګرځول شول. دا په دې چې دوے د شعري ژبې، شعري موضوعاتو او د شاعرد کردار په هکله په تنقیدي مفکورو کښې انقلاب راوستے.

د لېریکل بېلیډ دویم (۱۸۰۰)، دریم چاپ (۱۸۰۲) او څلورم چاپ (۱۸۰۵) کښې پرلپسې خپور شو. او له دې لاړې ئې د شعر تیوري (Theory of Poetry) وړاندي کړه. د ورډز ورت د شعر تیوري مرکزي خیال پر عام او ساده نړۍ، کلیوالي یا فطري ژبه او قدرتي شیانو باندې بنا وۀ.

**د لېریکل بېلیډز (Lyrical Ballads) مقدمه:**

دا د ویلیم ورډز ورت او سېمویل ټېلر کالرج د ۲۳ نظمونو یو ګډ اثر دے چې په ۱۷۹۸ کښې د یوې نوې تجربې په توګه په لومړي ځل چاپ شو. په دې مجموعه کښې لویه برخه نظمونه ورډز ورت لیکلي دي، او یوازي څلور نظمونه د کالرج دي چې په هغه کښې د ده مشهور نظم د (The rime of ancient mariner) شامل دے.وسمان عمر لیکي (ژباړه):"د لېریکل بېلیډ لومړے چاپ په ۱۷۹۸ کښې بې نومه خپور شو. په دې کښې څلور نظمونه د کالرج وۀ، او نور نظمونه ورډز ورت لیکلي وۀ. د دې لېریکل بېلیډ دویم چاپ ورډز ورت په خپل نامه له یوې مشهورې مقدمې او ځۀ نورو نظمونو سره په ۱۸۰۰ کښې خپور کړ.

" (10) ورډز ورت دریم چاپ د یوې پراخې دیباچې سره په ۱۸۰۲ کښې او اخري چاپ ئې په ۱۸۰۵ کښې خپور کړ. ترکومه ځایه چې د دې اثر (لېریکل بېلیډ) د سرلیک خبره ده، دا پخپله د دوو بېلابېلو ژانرونو د ګډون په نتیجه کښې د یو کلیوالي ادبي صنف په څېرښکاري. عمر د لېریکل بېلیډ د عنوان په هکله پخپله تحقیقي لیکنه کښې داسي لیکي:

"Even the title of the collection recalls rustic forms of art - the word lyrical" links the poems with the ancient rustic bards and lends an air of spontaneity, while "ballads" are an oral mode of storytelling used by the common people." (11)

ژباړه: تر دا پورې چې د دې اثر نوم د ادب د یوه کلیوالي صنف عکاسي کوي. د غنائي اصطلاح نظمونه له هغه لرغوني کلیوالي هنرمند سره تړي او بېساختګي ته پاملرنه کوي. خو بېلډ د کیسو ویلو یوه شفاهي طریقه ده چې عام او کلیوال خلک ئې کاروي.

دا یوه تجربه شوې خبره، چې هرکله د زاړه یا کلاسیک رحجان، تیوري، اصول یا نظرئې په غبرګون کښې یو نوے اصول، نظریه یا تیوري رامنځته کیږي، نو له سخت تنقید سره مخامخ کیږي. د کالرج او ورډز ورت لېریکل بېلیډ هم له داسي پېښو سره مخامخ شو. تر دې انده ځیني محقیقین فکرلري چې نقادانو، او لیکوالود دې نوې تجربې د لوستلو زحمت نه کولو. او ورډز ورت په دې مجبور شو چې د دې اثر دپاره اعلامیه (Advertisement) خپره کړي اونقادان په دې قانع کړي چې د دوے نوې تجربه ولولي او بیا تنقید پرې وکړي.

د کالرج او ورډز ورت په دې ګډ شعري اثر باندې زیاتره تنقید د نیو کلاسیک او روشن فکري سره تړلي پلویانو وکړئ، چې د شاعري دپاره ئې بېله ژبه انتخاب کړې وه. یاده دي وي چې د روشن فکري مدافعینو په کائنات کښې وهرڅهٔ ته د تعقل او منطق په نظر کتل. له دې پرته د شاعري دپاره موضوعات، هیت، طعبیت، استد لال، د لوړي طبقې نمائندګي د تیرو مکتبونو اساسي غوښتني وې، چې ورډز ورت ئې په دې اړ کړئ، چې ښه شاعري د بې ساخته جذباتو اظهار وبولي. هغه پخپله په دې تشهیر یا مقدمه کښې اعتراف کوي چې زیاتره نظمونه د یوې تجربې په توګه لیکل شوي دي. ورډز ورت (1798) د لېریکل بېلیډ په اعلامیه کښې داسي بحث کوي.

“It is the honourable characteristic of Poetry that its materials are to be found in every subject which can interest the human mind. The evidence of this fact is to be sought, not in the writings of Critics, but in those of Poets themselves. The majority of the following poems are to be considered as experiments. They were written chiefly with a view to ascertain how far the language of conversation in the middle and lower classes of society is adapted to the purposes of poetic pleasures.” (12)

ژباړه: دا د شاعري یو لوړ خصوصیت دے چې د دې توکي په هر موضوع کښې موندل کیږي، کوم چې د انساني فکر دپاره د پام وړ ګرځېدلائ شي. د دې واقعیت ثبوت به د نقادانو له تنقیدي لیکنو نه، بلکې د شاعرانو څخه را ایستل کیږي. د دې اثر زیاتره نظمونه دي د تجربو په حیث په ذهن کښې ونیول شي. په عامه توګه دا نظمونه د دې مقصد دپاره ولیکل شو چې دا پدپده واضع کړي چې څنګه د یوې ټولني د لاندي او منځنۍ طبقو د وینا ژبه د شعري ذوق دپاره کارول کیږي.

لکه وړاندي ذکر وشو، چې د کالرج او ورډز ورت تجرباتي اثر د نیوکلاسیک او روښن فکر لیکوالو او نقادانو د تنقید سره مخامخ شو. دغه سخت تنقید ورډز ورت په دې مجبورکړ چې د خپل نوي شعري تخلیق نه یوازي دفاع وکړي، بلکې د شعري اصولو دټاکلو دپاره ئې د شعر تیوري وړاندي کړه چې د شاعري او رومانویت تحریک اعلامیه وګرځېده. د ادبي اصطلاحاتو قاموس لیکوال م، ایچ ابراهم (۱۹۹۹) لیکي: (له انګلیسي ژباړه)"د لېریکل بېلیډ د دویم چاپ دپاره په ۱۸۰۰ کښې د ورډز ورت مقدمه د شعري اعلامئې یا انقلابي هدافود بیانې په حیث ولیکل شوه. په کوم کښې چې ده د لوړو طبقو موضوعات او د لرغونې پېړۍ شعري ژبه رده کړه. او دا وړاندیز ئې وکړ چې د عام ژوند له موضوعاتو سره بحث وکړے او هغه ژبه وکاروے چې عام او ساده اولس ئې استعمالوي." (13) لنډه دا چې رومانوي شاعرد خپل شعر دپاره موضوعات د قدرتي یا فطري نړۍ ستاینه، انفرادیت، ایډیالیزم، جسماني او احساساتي جذبه ، تخیل، ساده ژبه او غیب وګرځول. د دې شعري اثر اساسي مرام د فطرت سپېڅلي حالت ته بېرته راستنیدل دي، چېري چې خلګ سپېڅلے ژوند تیر کړي.

## د رومانوي تحریک خصوصیات

ترکومه ځایه چې د رومانټیسزم یا رومانوي تحریک د خصوصیاتو یا غوښتنو خبره ده، د رومانټیسزم تحریک له نیوکلاسیک مکتب او د روښن فکري دورې د غوښتنو سره اختلاف څرګند کړ. او د دې په څنګ کښې ئې ځانله خپل مخصوص خصوصیات وضع کړل چې وروسته ئې د تحریک بڼه خپله کړه. د رومانټیک تیوري او تنقید مقاله (کال نامعلوم) داسي راوړي.

"The same can be said of the term 'romanticism'. It refers to a theory, a school of thought, and a matter of technique and so on. The poets and the writers not only sought to emancipate themselves from the fetters of neo-classical rules but also experimented with the old forms." (14)

ژباړه: هم دغه رنګه د رومانټیسزم د اصطلاح په هکله وئیلاے شو. چې دا یوه تیوري، یو مکتب فکراو د کړنلاري یوه طریقه ده. د دې فکر منوونکي شاعرانو او لیکوالو نه یوازي د نیوکلاسیکل اصولونو څخه خپل ځانونه ازادول غوښتو، بلکې په زړو صنفونو کښې ئې تجربات وکړل.

هم دا ډول د رومانټيسزم په غوښتنو کښې د علت او دليل پر ځاے باندې وتخيل ته پاملرنه واوښتله او په شاعري کښې د تخيل استعمال په ازاد ډول پيل شو، جذبه پرعقل باندې مقدمه شوه. د مصنوعي ژبې پرځاے باندې فطري ژبه درومانويت غوښتنه وګرځېده. په شعرکښې د تخيل او بې ساخته جذبې استعمال شاعري د معروضي (خارج) پر ځاے موضوعي (داخلي) موضوع وګرځوله، چې د شاعر د جذبې او تخيل ترجماني کوي. د پورتنې بحث په رڼا کښې داسې وئېلاۍ شو، چې رومانوي تحريک پر دې ځانګړې اصولونو باندې اډانه لري: (له انګليسي ژباړه):"د رومانوي تيوري ځانګړې خصوصيات داسې دي: تخيل، فطرت، سمبوليزم او اسطوره، جذبه، غنائي شاعري، خپل ځان، انفراديت (رومانوي اتل)، ورځنۍ او کليوالي ژوند، په ټولنه کښې رومانوي هنرمند،د شعرتيوري، د تخيل تيوري." (15) د رومانوي تحريک د پورته ياد شوو ځانګړې اصولو لنډه توضيح وړاندې کووۀ.

تخيل: **(Imagination)** د رومانټيسزم / رومانويت پلويان د عقل او منطق پرځاے باندې په شعر کښې د تخيل پلوي کوي. دوے و تخيل ته د روايتي علت پر ځاے د لوړې درجې ځاے ورکړ، او دا ئې يو تخليقي قوت په ګوته کړے. تخيل چې د رومانوي شاعري اساسي توکے دے، مګرد دې په تعريف کولو کښې ورډز ورت او کالرج ځۀ اختلاف سره لري. سجاد باقر رضوي (له اردو ژباړه) ليکي:" ورډز ورت تخيل يو بالکل داخلي شے ګڼي، يعني د شاوخوا پر نړۍ باندې د انساني ذهن عمل. هغه کله دغه قوت يو تجلي بولي، پرکوم باندې چې د عقل اختيار نه وي او دا تجلي اکثره تر انساني روح هم ماورا يو شے معلومېږي...د کالرج په فکر د شاعر امتيازي خصوصيت د ده تخيل دے کوم چې يو تخليقي قوت دے. دے تخيل په بنيادي تخيل (Primary Imagination) او ثانوي تخيل (Secondary Imagination) کښې ويشي." (16) يعني د رومانوي شاعري دپاره تخيل ځکه مهم اصول وګرځېدۀ، چې شعر ئې د عقل او پوهنې پر ځاے باندې د خوشحالۍ يو سبب ګڼلے. ځکه " شاعري د عقل له دائرې څخه راووتله، او د دې تعلق له " تخيل" سره جوړ شو." (17)

فطرت: **(Nature)** رومانوي شاعر د مصنوعي ژوند پر ځاے باندې د فطرت عکاسي ته نه يوازې پام اړوي، بلکې په دې باندې هم ټينګار کوي چې فطرت ته ستنېدل انسان د ټولنې له بدعمليو څخه ساتي. ځکه انسان له پکار دے چې فطرت ته توجه وکړي. ورډز ورت فطرت پر دوو برخو يعني پر خارجي فطرت او انساني فطرت باندې ويشي. سجاد باقر رضوي د

ورډز ورت د فطرت توضیع داسي کوي: (ژباړه)"د ورډز ورت له فطرت څخه مقصد یوېخوا ته خارجي فطرت دے، د کوم تر اثر لاندي ژوند تیرونکي د متمدن ژوند له بدعملیو او د ټولني له خرابیو څخه لرې اوسي. او دا بلې خوا ته انساني فطرت دے، چې په ساده ټکو کښې د دې مطلب د عام انسانیت شعور." (18) و فطرت ته ستنېدل هم د فرانسوي فلسفي روسو لخوا و رومانوي تحریک ته یوه پېرزوینه وه، ځکه "هغهٔ د تهذیب په مقابله کښې و فطرت ته ترجیح ورکوله. د روسو نعره وه و فطرت ته ستنېدل (back to nature)... د هغه دا خیال وهٔ چې د فطرت پر نامه باندې تهذیب انسان د مصنوعي ژوند په سانچه کښې اچولے دے." (19) ځکه د رومانوي تحریک پلویانو د تهذیب پر ځاے و فطرت ته خپله توجه متمرکز کړه، چې یو ډول د کلاسیکیت د تصوراتو ضد عمل وهٔ. یاده دې وي، چې د رومانوي تحریک د اساسي غوښتنو څرک په پښتو کلاسیکل شاعري کښې لیدل کیږي. خو د موضوع د اوږوالي له سوبه د فطرت دپاره یوازې د حمیدمهمند پریوه شعرباندې اکتفا کووهٔ: خواجه محمد سائل:

غنچه خوله چې په خبرو راته واکړي د نرګس په څېر ګوز ګورم شرمسار شم

یا دا شعر

انتظار ئې د نرګس ګونه کړه زیړه سروې سرپسې له باغه بېرون وکښې

(20)

سمبولیزم: **(Symbolism)** په ادب او د فنون لطیفه په نورو صنفونو کښې د علامت د لارې د پېښو، نظریاتو یا صفاتو اظهارکول د رومانټیسزم یوه لویه غوښتنه ده.

جذبه: **(Emotion)** رومانوي شاعران د عقل، منطق او علت پر ځاے جذبه ته ترجیح ورکوي. د ورډز ورت مشهوره جمله چې"د قوي جذباتو بې ساخته اظهار" د رومانټیسزم تحریک اعلامیه وګرځېده. په مخکښېنے بحث کښې و دې لوري ته اشاره شوې ده، چې په ادب کښې رومانویت د کلاسیکي اصولو په ضد یو ردعمل وهٔ. یعني کلاسیکیت خوښونکو به کښې د "عقل" طرفداري کوله . مګر ورډز ورت شاعري د جذباتو بې ساخته اظهار و بللې، ځکه د رومانوي فکر منوونکو د عقل پر ځاے باندې و جذبې ته فوقیت ورکړو. دا یوه منل شوې خبره ده، چې د انسان د هرې اختراع مرکزه انسانیت یا انسان پخپله پاته شوے دے. یعني د انسان متعلق په هر دور کښې د مختلفو پوهانو او نقادانو لخوا ډېر بحثونه شوي دي، چا پکښې انسان عقلي یا ټولنیز ځناور او چا جذباتي ځناور په ګوته کړئ دے. جالبي لیکي:

"ارسطو وئيل انسان "عقلي حيوان" دے، او روسو وئيل "جذباتي حيوان" دے. انسان هر کار اول په جذباتو کښې له راتللو سره تر سره کوي، او وروسته بيا هغه کار ته عقلي رنګ ورکوي. ګواکې د خلګو دپاره "جذبات" تر "عقل" ډير مهم دي، په دې باندې د هغه وخت ادب د عقل پر ځاے باندې د "تخيل" پر عملداري کښې راغلو." (21) له دې سره چې کله د رومانوي تحريک پلويانو د عقل پر ځاے باندې و جذبه ته اوليت ورکړئ، نو له دې سره د کلاسيکيت هغه اصول چې د عقليت يا عقل پر اساس باندې به ئې د ادب پرچار کولئ، رد شو، او شاعري ته نوي تعريفونه وتراشل شو. باقر رضوي د ورډز ورت د شاعري مسووليت داسي توضيع کوي (ژباړه)" چې دا شاعري به د لوستونکو ويده جذبات راوپاروي او په دې کښې د لوړو احساساتو تحريک پېدا کوي. هغه ليکي: ۱- د شاعر وظيفه دا ده چې انساني ټولنه د جذبې او علم د لارې منظمه کړي. ۲- په لوستونکو کښې دي خاکساري او انسانيت په دې پېدا کړي چې هغه د سپېڅلو جذباتو او لوړو خيالاتو نمائنده شي." (22) تر کومه ځايه چې د رومانويت د قوي جذباتو دبې ساختګي د اظهار خبره ده، د پښتو شاعري له داسي ډول اظهار څخه پرېمانه ښکاري. د دې مثالونه د خوشحال خان خټک، حميد بابا، علي خان، اشرف مفتون، غني خان، اجمل خټک او نورو ډيرو شاعرانو په شعر کښې ليدل کيږي.

دشعر تيوري: (Poetic Theory) د شعر يا شاعري ژبه څنګه پکار ده؟ د اتلسمي پېړۍ له وروستنيو لسيزو څخه يوه ځانګړې موضوع وه.د نيوکلاسيکي پير شاعرانو يوه ترکيب شوې شعري ژبه د شاعري دپاره لازمي ګڼله. د دې ترکيبي ژبې له استعمال سره شاعري له فطري اظهار څخه په مجموعي توګه بېله شوه. د دې په څنګ کښې ورډز ورت د کليوالي او فطري ژبې تيوري وړاندي کړله. رضوي د ورډز ورت د شعري ژبې په هکله ليکي (ژباړه): "شاعري د انسانانو په فطري ژبه کښې کول پکار ده. له دې پرته انفراديت او د کليوالي ژوند موضوعات هم د رومانوي تيورۍ ځانګړتياوې دي." (23) لنډه دا چې رومانويت د ورډز ورت او کالرج د لېريکل بېليډ د نوې تجربې په نتيجه کښې رامنځته شوه چې د اتلسمي پېړۍ د نيوکلاسيکي دورې د شعري اصولونواو روشن فکري د علت او تعقل سره ئې نه يوازې اختلاف څرګند کړئ، بلکې د دې پر ځاے باندې ئې جذبه، تخيل، فطري ژبه، طبعيت، له زړو رواياتو څخه بغاوت، کليوالي ژوند، خپلواکي، انفراديت او د ژوند عمومي پديدې د شعر موضوعات وګرځول.

**رومانوي تحريک او پښتو ادب:**

دا پوښتنه پرخپل ځاے باندې يوه معقول جواب ته اړتيا لري، چې نړيوال ادبي تحريکونه په مخصوصو سياسي، مذهبي او ټولنيز حالاتو کښې پېدا شوي دي. ځکه دغو ادبي تحريکونو د خپل وخت د ځانګړي سياسي، مذهبي او ټولنيز غوښتنو ادعا کوله. د دې په پرتله پښتنه ټولنه او ادب ځانته خپل خصوصيات لري، چې هغه خصوصيات به هم د دې ټولني او ادب په خپله تله باندې تلل کيږي. پر دې باندې د بلي ټولني او ادب اصولونه عملي کول به څۀ جواز ولري؟ د بحث لورے و خپل موضوع ته راګرځوو، ايا رومانوي تحريک د خپلو هغو ټولو بنيادي غوښتنو په صفت په پښتو ادب کښې انکشاف کړئ دے، او که ئې نه دے کړئ؟ په دې هکله دوه بېل نظرونه موجود دي. د يوه فکر پلويان داسي نظرلري، چې رومانوي تحريک په پښتو ادب کښې وده کړې ده، او حميد ممند د دې مکتب سرخېل ګڼي. مګر ځيني عصري نظر لرونکي پوهان داسي فکر لري، چې رومانوي تحريک د خپلو ټولو مهمو غوښتنو په اساس باندې په پښتو ادب کښې نشته، البته ځيني خصوصيات ئې د ځيني کلاسيکي او معاصر شاعرانو په شاعري کښې ليدل کيږي.

تر کومه ځايه چې د اول نظر خبره ده، چې رومانوي تحريک په پښتو ادب کښې وده کړې ده، په دې کښې يو خواجه محمد سائيل دے، چې د ”رومانويت او عبدالحميد بابا“ په نوم ئې يو کتاب ليکلئ دے. سائيل وايي: ”د پښتو په کلاسيکي شاعرۍ کښې اګاهونه زموږ د ځيني شاعرانو په کلام کښې په څۀ نا څۀ شکل موجود وو. د خوشحال خان خټک په شاعرۍ کښې دغه رنګ او فن زيات محسوسيږي. خو د عبدالحميد بابا کلام من حيث المجموعي د رومانويت يو باقاعده سبک دے. د هغه په شاعرۍ کښې د فطرت عکاسي ډير په شدت څخه ده، او پښتو ادب کښې د ”رنګ و بو شاعر“ او د دې مکتبه فکر امام ګڼلے شي.“ (24) دا بحث وړاندي شوے دے، چې د فطرت عکاسي يا د فطرت و خوا ته ستنېدل د رومانوي مکتب فکر يوه مهمه غوښتنه وه، چې د کلاسيکيت د تهذيب په ردعمل کښې روسو وړاندي کړه. مګر يوازي د حميد بابا په شاعري کښې د فطرت عکاسي خو د هغۀ ټول مکتب فکر ترجماني نه کوي؟ که دا رنګه، د يوه بل شاعر په شعر کښې د رومانوي مکتب فکر يو بنيادي خصوصيت بيان شوے وي، نو هغه به له رومانويت څخه د الهام په توګه اخيستل شوے وي، نه د بشپړ مکتب په توګه. له دې پرته يو شمېر نور ليکوال هم داسي نظر لري، چې رومانويت د يوه تحريک په توګه په وشلمه پېړۍ کښې پښتو ادب ته راداخله شوې ده. شجاعت علي خان په يوه مقاله (جولائي-دسمبر۲۰۱۹، مخ ۱۲۲ - )کښې ليکي: ”دا

تحریک په شمله صدۍ کښې د برصغیر په ادب کښې رانونوتواو په پښتو شاعرۍ کښې په شعوري توګه د تعلیم یافته زلمو د شاعرۍ په لاره را داخل شو... دا تحریک چې کله مشرقي ادب کښې را داخل شو نو اردو ادب سره سره ئې پښتو ادب هم متاثره کړو. د پښتو بعض تعلیم یافته ازاد خیال او باشعور ادیبانو دا اثرات قبول کړل، په دوے کښې وړومبے نوم د اشرف مفتون دے." (25) یعني په پښتو ادب کښې د رومانویت د بنسټګر په هکله په پورتني بحث کښې یاد شوي لیکوالان فکري اختلاف سره لري، هغه دا چې خواجه محمد سائل د حمید مومند په شاعري کښې او شجاعت علي خان بیا د اشرف مفتون په شعر کښې رومانوي اثرات لټوي، او د دې دپاره دلیلونه وړاندې کوي.

په دې پسې د دویم فکر ملګري داسې نظر لري، چې رومانوي مکتب فکر په پښتو ادب کښې نشته، ځکه چې د یوه مکتب فکر د جوړېدلو دپاره د څو شاعرانو په منظمه توګه یوه فکر ته کارکول ضروري دے. چې هغه په پښتو ادب کښې نه لیدل کیږي. "د ادبیاتو دنیا" (پر ادبي موضوعاتو مرکې او بحثونه) کښې نجیب منلے د اسد الله غضنفر د رومانتیزم د یوې پوښتنې (... د اشرف مفتون په شاعري کې درمانتیزم ډیر بنیادي خصوصیت شته) په جواب کښې وایي: "مفتون به له رومانتیزمه الهام اخیستے وي، مګر دغسې یو شعوري حرکت او فعالیت، چې څو کسه شاعران په منظم او دوامدار ډول یوې لارې ته کار وکړي، زموږ په ادبیاتو کښې نشته، نو په دې اساس موږ دلته د رومانتیزم مکتب نه لرو. اشرف مفتون د اروپا له رومانتیزمه الهام اخیستے دے، مګر زموږ په ټولنه کې رومانتیزم نشته، ځکه چې هغه شرایط نشته." (26)

لنډه دا چې له دې بحث څخه دوې مهمې نقطې رامنځته شوې: اوله دا چې په کومو شرایطو کښې رومانوي تحریک یا مکتب فکر انکشاف کړئ وۀ، هغه شرایط زموږ په پښتنه ټولنه کښې نه لیدل کیږي. او دویمه خبره دا، چې د یوه مکتب فکر دپاره، لکه نجیب منلي چې پورته اشاره ورته کړې ده، د څوکسه شاعرانو په منظمه او دومداره توګه کار کول، ضروري وي، چې هغه په پښتو ادب کښې وجود نه لري. نو د دې دوو مهمو نقطو په رڼا کښې د دویم نظر لرونکو پوهانو خبره ارزښت پیدا کوي، چې په پښتو ادب کښې د رومانتیزم مکتب فکر انکشاف نه دے کړے.

## حوالې

۱ - جالبي، ډاکټر جمیل، (۲۰۱۷) ارسطوسے ایلیټ تک(لسم ایډیشن): اسلام اباد، نیشنل بک فاونډیشن، مخونه ۳۸-۴۳
۲ - احمد، ډاکټر سعید، (۲۰۱۸)، رومانوي تحریک اور اردو ناول: اردو ریسرچ جرنل - اکتوبر- دسمبر ۲۰۱۸، شماره: ۱۲
۳ - احمد، ډاکټر سعید، (۲۰۱۸)، رومانوي تحریک اور اردو ناول: اردو ریسرچ جرنل - اکتوبر- دسمبر ۲۰۱۸، شماره: ۱۲
۴ - جالبي، ډاکټر جمیل، (۲۰۱۷) ارسطوسے ایلیټ تک(لسم ایډیشن): اسلام اباد، نیشنل بک فاونډیشن، مخ ۵۶
۵ - روهي، محمد صدیق، (۲۰۰۷). ادبي څېړنې، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، مخ۳۲

## References:

1 – Jalibi, Dr. Jamil, (2017) Arasto Se Elyet Tak (Daswan Edition), Nashir, National Book Foundation, safa nos, 38-43
2- Ahmed, Dr. Saeed, (2018) Romanvi Tahreek aor Urdu Naval, Urdu Research Journal- Oct-December 2018 Shumara: 16
3 – Aizan, safa no 16
4 – Jalibi, Dr. Jamil, (2017) Arasto Se Elyet Tak (Daswan Edition), Nashir, National Book Foundation, safa no 56
5 – Rohi, Muhammad Sadeeq, (2007) Adabi Serrani, Danish Khparandoya Tolana, safa no 32